# القارعة

**مکی سورة دی ۱۱ آیتونه لری**

**بِسۡمِ ٱللَّهِ ٱلرَّحۡمَٰنِ ٱلرَّحِيمِ**

## ٱلۡقَارِعَةُ ﴿١﴾

**القارعة( د جهانی نظم) ګډوډوونکی اوټکوونکې لویه پیښه( او د الله تعالی د دښمنانو لپاره د ویرې او دهشت نه ډکه د قیامت ورځ).**

## مَا ٱلۡقَارِعَةُ ﴿٢﴾

**څه ده القارعة( دغه لویه ټکوونکې او ګډوډوونکې پیښه)؟**

## وَمَآ أَدۡرَىٰكَ مَا ٱلۡقَارِعَةُ ﴿٣﴾

**او ته څه پوهیږې چې( څنګه لویه پیښه ده)القارعة ؟**

## يَوۡمَ يَكُونُ ٱلنَّاسُ كَٱلۡفَرَاشِ ٱلۡمَبۡثُوثِ ﴿٤﴾

**هغه ورځ چې( له لومړۍ شپیلی سره به) خلک له( وارخطایۍ او اضطراب له امله) د پتنګانو او ملخانو په شان خواره واره وی.**

## وَتَكُونُ ٱلۡجِبَالُ كَٱلۡعِهۡنِ ٱلۡمَنفُوشِ ﴿٥﴾

**او غرونه به د رنګارنګ ډاندس شویو وړیو په شان (وشیندل شی).**

فَأَمَّا مَن ثَقُلَتْ مَوَٰزِينُهُۥ ٦

**نو څوک چې( د ایمان او نیکو اعمالو) تله یې درنه او ارزښتناکه شی،**

فَهُوَ فِي عِيشَةٍ رَّاضِيَةٍ ٧

**په ډیره هوسایی او نیکمرغی کې به یې ژوند وی.**

وَأَمَّا مَنْ خَفَّتْ مَوَٰزِينُهُۥ ٨

**او څوک چې( د ایمان او نیکو اعمالو) تله یې سپکه او بې ارزښته شی،**

فَأُمُّهُۥ هَاوِيَةٌ ٩

**نو پناه ځای او هستوګنځی به یې هاویه وی.**

وَمَآ أَدْرَىٰكَ مَا هِيَهْ ١٠

**او ته څه پوهیږې چې هاویه به څه وی؟**

نَارٌ حَامِيَةٌۢ ١١

**د یوه سخت سوځوونکی اور( ژوره کنده ده چې کافران به ورته پرمخې ورغورځول کیږی).**

**« تمت سورة القارعة بفضل الله و رحمته»**
**=====================**